فرستنده: بسمل


۲۵ اپریل ۲۰۱۱


## دمبـــــــــاره كـــــــــي پيـــــــغام

دبايرن مېشتوافغانانوكولتوري ټولنه په ډېردرنښت سره دكونړځوانانوكولتوري ټولنې ټولوغړو او ټولوكونړي يارانو ته د كونړ سيند مشاعرې ددرېيمي كليزې د رارسېدو مباره كي وايي .

مونږ په تاسو وياړو چي دېردېسي له درنو درنو غمونو سره سره دخپل ګران هيواداو مورنى ژبي دحفظ لپاره مو دكونړ سيند په نوم درنه مشاعره دود او هر كال يې په خپل همت سره لمانځئ .

دا چي دګن شمېر ستونځو له كبله ستاسو درني لمانځني ته نشو درتلاى هيله ده چي مونږ ته ببننه وكړئ .

ستاسو ټولو عزتمنوخويندو او ورونو درانه حضور ته په ناغه كي دايونوى شعر چي همدا نن مي وليكه درلېږم هيله ده چي په چاونه غمېږي البته كه تخنيكي امكانات وي زه به دتيليفون په ليكه تاسوته خپل شعر ډالى كړم .

محمدامين بسمل دبايرن مېشتو افغانانو دكولتوري ټولني په استازيتوب

## وه دكونړ سينده

لس كاله يي كيري لر اوبر په پښتنو لو دى
مال مو وړي كمال مو وړي زمونږ په بووښځو لو دى
هغه چا چي غوښتل له روسانو ملک آزاد كاندي
خپل ورونه يي قتل كړل اوس ګورو په هغو لو دى
كونج په شپږ تنور شولو رندان هم سرګردان ګرزي
برګ غوبل روان دى په پيالو او په تسپو لو دى
تا خو ياغي ياره هم خپل ځان او هم جانان كړ خوار
څه بيره دي وكړه اوس پخپلو او پردو لودى
هغه عنبري زلفي له ننګ او له ناموس سره
ټول يي ننداره كړو په هغو پاكو كمڅو لو دى
څه الله دي وبښي پخوانى كفنكښ ډېر ښه و

راغلل نړيوال لېوان په پېغلو او زلمو لو دی

نن دېښتنو په جنازو او په ودو باندې

سرې سکروټېووري هم په ورځو هم په شپو لو دی

مور يې دخلقي او دطالب په نوم پکو کړلو

نورو مزې وکړې زمور خوارو په سرو لودی

ته وا دغه نور دي سپين چرگان يو پښتانه کافر

خويندې مو په سپو داړي په کليو اوقريو لو دی

لس کاله يي کيږي اور مړ نه شو لا يي زور واخيست

غله راغلي چور ته نه يي وينئ په کانو لو دی

هم يې په کونړپکتيا هلمند اوکندهار اوربل

هم مي خيبر سوځي پېښور او په بنو لو دی

ای داجنبيانو گوډاگيه رب دې ژر واخله

ستا مردار له لاسه دشېرشاه په اولادو لو دی

وه دکونړ سينده څه ته گوري پسې پاڅېږه

خړکربوږي تول وېسه په مور ددغو سرو لو دی

څنگه زه بسمل پټه خوله کښېنم ځان افغان بولم

هم مو نسل وژني هم زمور په تاريخو لو دی

لس کاله يي کيږي لر اوبر په پښتنو لو دی

مال مو وړي کمال مو وړي زمور په ښوونځو لو دی

**يادونــــــــــــــه :**

دنړۍ په مخ ټولو خورو ورو افغانانو ته په ډېره خوښي سره خبر ورکوو چې ببگا شپه کلن ښار ته څېرمه د Leverkusen په ښار کې دکونړ سيندمشاعرې دربيمه کليزه په ښه برم سره ولمانځل شوه هيله ده چې پوره رپوټ به يې په نږدې راتلونکي کې دمسؤلينو لخوا په تفصيل سره خپور شي .

ديادولو ده چې پورتنی شعر په مخامخ ډول د تيليفون په کرښه له مونشن ښار څخه دغونډې درنو گډونوالو ته واورول شو.